# پخواني کلمات او نوي مفاهيم

په ابتدائي ژبو کښي ځيني کلمات موجود وي چي د ژبي تر علمي پرورښت او جوړښت دمخه هغه کلمات په غير مرتب او نامعين ډول په مختلفو مواقعو کښي استعماليږي. مگر کله چي ژبه په علمي ډول تر ترتيب او روزني لاندي راسي، نو پوهان هغه کلمات پر خپل خپل ځاى باندي د يوه خاص مفهوم لپاره وټاکي، او په داسي ډول هغو وحشي کلماتو ته مانوس او مدني مفاهيم ورکي، چي تر تداول او استعمال وروسته ئي خلک له هغو مفاهيمو سره آشنا سي او هغه کلمات په مدني اړتياوو کي د خلکو په درد وخوري او احتياج ئي ور پوره کي. دغه کار اکثر ملتو کړئ دئ په اوسني عربي کښي ډېرو زړو کلماتو نوي مفاهيم موندلي دي، چي خورا مروج دي. مثلاً کليه د فاکولتې په مقابل کښي، يا عميد د فاکولتې د رئيس (ډين) لپاره يا :

| | | |
|---|---|---|
| استاد | = | پروفيسر |
| دبابه | = | جنگي ټانک |
| مسلسل | = | ماشنگن |
| سياره | = | موټر، اتومبيل |
| طياره | = | ايرو پلين |
| صک | = | چک |

او داسي نور په زرو قديم عربي کلمات چي اوس د نوى ژوند په نوو مفاهيمو کښي مستعمل دي.



د فارسي ژبي ځيني قديم کلمات هم اوس د معنوي تلازم په لحاظ په ځينو نوو اصطلاحاتو کښي مروج سوي دي، او دا کار جاري دئ لکه :

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| پيشوند | = | عربي سابقه | = | پري فکس |
| پسوند | = | عربي لاحقه | = | سفکس |
| دستور | = | گرامر | | |
| دانشگا | = | پوهنتون | | |
| دانشکده | = | پوهنځي | | |
| آتش | = | عسکر | | |

دا کار په پښتو کښي هم روان دئ او ډېر پخواني کلمات په نوو مفاهيمو سره خپاره سوي او پېژندل سوي، چي اوس ئي خلک بې تکليفه استعمالوي، مثلاً :

په پښتو کښي له قديمه د (تون) ادات د ظرفيت لپاره موجود وُ، مگر د خلکو غوږونه ورسره آشنا نه وه او کله چي موږ لومړى پلا دغه ادات په نوو نومو کښي استعمال کړ، ځينو خلکو نه ومانه او انتقاد ئي پر کاوه مگر وروسته چي په پوهنتون او روزنتون او درملتون او نورو کښي استعمال سو اوس گورو چي خلک ئي په ډېره مينه استعمالوي او ډېر مانوس او آشنا ښکاري،د پښتو په ژبپوهنه او گرامر کښي موږ ډېرو اصطلاحاتو ته ضرورت لرو او بايد د پونيم او مورفيم او کلمي او سلابيل او کلام په مقابل کښي خپل پښتو کلمات او اصطلاحات ولرو چي تر ټاکلو او استعمال وروسته دا کلمات په علمي ډول مانوس او مفهوم سي، او خلک ئي له استعماله سره آشنا سي. له ډېره وخته موږ د پښتو گرد سلابيل په مقابل کښي استعمالوو او د صوت لپاره ږغ يا غږ وايو او ږغپوهنه هغه ژبنى بحث بولو چي په صوت شناسي پوري اړه لري. په پښتو کښي درې نوري دغسي کلمي سته، چي پوهان ئي په گرامري احتياجاتو کښي استعمالولاى

سي او زه ئې له ادبي اسنادو سره دلته دربښيم : د (ويل) له مادې څخه يوه کلمه په قديم ادب کښي موجود وه، چي اوس ئې موږ نه وايو مگر ممکنه ده چي دغه کلمه په گرامري او ژبني مباحثو کښي پر خپل ځای کښېږدو او ښه کار ځيني واخلو.

(ويي) د خوشحال خان په کلام کښي مکرر راغلی دئ او داسي ښکاري چي په ختکو کښي دا کلمه وه. مثلاً خوشحال خان وايي :

چي به بل تر تا راتېر کړم
دا ويي د زړه وباسه

بل ځای وايي :

يو ويي د دلاسا راته پرې نږدي
ځان که هر څو خپل مين ته مرور کړم

بيا بل ځای وايي :

دا ويي زما دراز دئ
دا منزل دور و دراز دئ

په يوه بله قصيد کي وايي :

چي په نيم ويي ئې کار کيږي د خلق
د خلاصی مي هميشه کاندي جدال

له دې ادبي سندو څخه ښکاري چي ويي په قديمه پښتو کښي د کلمې په مفهوم استعمالېده او که اوس هم په گرامري او ژب پوهنه کښي دا کلمه د مورفيم يا کلمې پرځای وټاکو مفيده به وي. دوهمه کلمه له دغي مادې څخه (ووی) دئ دا هم خوشحال خان مکرر استعمالوی او ښکاري چي په محاوره کښي هم داخل و، مثلاً وايي :

دا ووی مي خوښ دي چي چا ويلي دي
ډېر مي په زړه باندي ښه لگېدلي دي

بل ځای وايي :



دا آسمان نه دی يو خوني پړانگ دئ
راته غرمبيږي تلتل په بانگ دئ
خوله ئې سره کړې د دارا په وينو ده
شفق ته گوره دا ووی په تانگ دی

په يوه بل بيت کښي داسي وايي :

شيطان هر گوره ښايسته روغ دئ
چي ئې بدرنگ بولي دا ووی دروغ دي

له دغو گردو مثالو څخه ښکاري چي ووی د قدماوو په ژبه کلام او جمله، او د انگريزی سين ټنس و او اوس هم ښايي چي موږ يې په گرامر کي د کلام او جملې پر ځای وټاکو. بله کلمه له همدې ريښې څخه وينا ده، چي اوس ئې هم موږ په عامه محاوره کښي وايو دغه وينا له ډېره وخته د پښتو مرکې هم د نطق په مقابل کښي ټاکلې وه او اوس ئې هم موږ په دغه مفهوم منو. اوس به نو دغو ژبنيو اصطلاحاتو ته داسي ترتيب ورکړو چي :

د ژبي هغه لومړي ووړ جزو به ږغ يا (فونيم) وبولو بيا به نو د څو ږغو مجموعه يو گړ (سلابيل) وبولو، د يوه يا څو گړو مجموعه به ويي يعنی مورفيم يا کلمه وگڼو، او د څو کلمو او ويو مجموعه به يو ووی يعنی کلام او جمله وبولو او د څو وويو يعنی جملو مجموعه به وينا وبولو. يو انسان چي خبري کوي هم اول ږغ له خولې راباسي، او بيا له څو ږغو څخه يو گړ او سلابيل جوړوي، بيا نو له گړو څخه کلمات او ويی، او له ويو څخه جملې يعنی وويونه او له ووېو څخه وينا جوړوي.

د ږغ ـ گړ ـ ويی ـ ووی ـ وينا استعمال د اروپايي يا عربي اصطلاحاتو پر ځای په گرامر او ږغپوهنه او ژب پوهنه کښي ماته مناسب ښکاري او دغه کلمات د پيشنهاد په ډول وړاندي کوم. البته که بل څوک په ادبي او علمي اسنادو سره بل څه راوړاندي کوي

که هغه تر دغو کلماتو موزون او مستند وي باید هغه ومنل سي، ځکه چې په داسي کارو کښي تر یوه فکر او د یوه سړي تر معلوماتو د ټولني او ګڼو پوهانو فکر رسا او سم او مفید وي. باید زموږ هغه ښاغلي ملګري چې په ژب پوهنه کښي ئې عالي تحصیلات کړي دي او داسي کارو ته ډېر صلاحیت لري، دغسي څېړنو ته ملتفت سي، او د پښتو لمن د علمي اصطلاحاتو او د اوسني ژوند لپاره پلنه کي، ځکه چې د یوې ژبي هرومرو دغو اصطلاحاتو ته اړتیا وي او د پښتو لپاره په دې خوا کښي منظم او علمي کار تر اوسه نه دئ سوئ. (۱)

(۱) وږمه مجله، ۱۳۴۶ ل کال، د جدي، دلو او حوت ګڼه، ۳۶ _ ۴۰ مخونه.